


**مطبوعاتی اعلامیه**

**نیټه 1393/2/30** **مسلسله شمیره ( 5 )**

**کابل- افغانستان**

## پر یوې ماشومې جنسي تیری که انساني ناورین؟

## کابل – افغانستان

لکه څنګه چې مونږ ټول د جنایتونو د ډیروالي، د ښځې د کولتور اوج ته د رسیدو او د غیرمسوولو وسلهوالو وګړو د ډول ډول تاوتریخوالیو شاهدان او ورڅخه اندېښمن یو، او ترڅنګ یې د حل‌لارو په لټه کې یو؛ بدبختانه مونږ هېڅکله هم پدې نه یو توانیدلي چې هغه تاوتریخوالی را کم کړو چې د وحشي جنایتونو په څېر دي. د خپلې دې ناتوانۍ ترڅنګ پر دا ډول پېښو یواځې خپل منفي تاثر څرګندوو او زمونږ د مسوولینو هم تر ټولو ستر ګام دا وي چې د دا ډول جنایتونو پر غندنې او محکومولو اکتفا وکړي.

په دا ډول پېښو کې مسوول اورګانونه غواړي چې د ستړې پېښې پر وړاندې د وړوکي عکس العمل له لارې د خلکو سترګې پټې کړي، پداسې حال کې چې که دقت وشي نو شونې ده چې د تاوتریخوالي د زیاتوالي یو مهم لامل پېښو ته همدا د مسوولینو بې پروایي او نه پاملرنه وي.

مونږ د ښځو د حقونو مدافعین او ټول هغه کسان چې بشري حقونه مني؛ له اندېښنو ډکه پوزې ته راغلي یو او ډېر ځلي مو د سیمه‌ییزو پولیسو (اربکیانو) پروګرام په ټول هېواد او په ځانګړې توګه د هېواد په شمال کې د تاوتریخوالیو لامل ګڼلی دی او دادی یو ځل بیا د ملي پولیسو پر وړاندې ددې موازي اداري غړي پر یوې ۱۳ کلنې ماشومې د تیري د جرم مرتکب شول. پر همدې بنسټ؛ مونږ په دې باور یو چې مونږ نشو کولای چې دا ډول پېښې یواځې وغندو او محکومې یې کړو بلکې په کلکه ددې غوښتونکي یو چې دولت دې په جدي توګه ددې پېښې مرتکبین ونیسي او مجازات دې کړي همداراز په کلکه ددې غوښتونکي یو چې دولت دې په ژوره توګه د سیمه‌ییزو پولیسو (اربکیانو) د پروګرام بیاکتنه وکړي. دا چې دولتي چارواکي مونږ ته مسوولې سرچینې دي، نو مونږ اړ یو چې همدوی ته رجوع وکړو او ورڅخه غواړو چې دوی ته د دوی اساسي دندې بیا بیا ور په یاد کړو او هغوی د دا ډول پېښو حساسیت ته متوجې کړو؛ نو:

- د ذیدخلو دولتي چارواکو څخه غواړو چې د ښځو او ماشومانو امنیت او مصونیت ته لازم تدابیر ونیسي.
- دا ډول قضایاوو ته دې جدي رسیده‌ګي وشي (د پېښو عاملین دې د عدلي تعقیب لاندې ونیول شي)
- قضایي اورګانونه دې، د نورو د عبرت لپاره، علني محکمې ترسره کړي.
- د بشري حقونو کمیسیون او مدني ټولنې دې په خپلو کې د همغږۍ له مخې، مناسبې حل‌لارې ولټوي.
- جنسي تیري دې په ژوره توګه بررسي شي او عاملین یې دې تر قانوني تعقیب لاندې ونیسي.

---

دافغانو ښځو شبکه – دیپارتمنت / حقوق او دادخواهی

داړیکی شمیره ...0777743023